2017550 139621

# مسير

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د مي ۱۳مه | دريیم کال| ۳۷۲یمه ګڼه

## هیواد

۴ مخ

### اذربایجان

د دغه هیواد ۴۰ سلنه خلک د کرنې او کبانو نیولو په سکتور کې پر کار بوخت دي او د هیواد شپږ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکتور څخه لاس ته راځي.



# په افغانستان کې؛ د امریکا خونړۍ جګړې نه یوازې افغانان، بلکې امریکایان هم ستړي کړي دي



۳

### د سولې خبرې له کوم جدي خنډ سره مخ شوې دي؟

۲ مخ

### افغان کډوال؛ پر لوېدیځ د ایران د فشار وسیله

۲ مخ

### د افغان جګړې او سولې په اړه نوې محاسبې

۳ مخ

## په پکتیا کې له وچکالۍ ځپلو کورنیو سره د ۲۵۰۰ ټنو غنمو د وېش لړۍ پیل شوې ده




د پکتیا په مرکز او ولسوالیو کې له وچکالۍ ځپلو کورنیو سره د ۲۵۰۰ ټنو غنمو د وېش لړۍ پیل شوې، چې د مسوولینو په خبره، شاوخوا ۲٤ زرو کورنیو ته به ورسېږي.

د پکتیا والي شمیم خان کتوازي د یادو غنمو د وېش د پیل پر مهال ویلي، چې دا مرسته پر بزګرانو سربېره، هغو خلکو ته ورکول کېږي چې د تېر کال وچکالۍ یا وروستیو اورښتونو زیانمن کړي دي.

هغه ویلي: «دا غنم هغو خلکو ته تقسیمېږي چې وچکالي ځپلي یا بې ځایه شوي وو او په ټوله کې هغه خلک چې له لوږې سره مخامخ وو او زیانمن شوي وو. هغوی سروې شوي او منظم لېستونه یې ترتیب شوي دي». د پکتیا د کرنې رییس محمدالدین مومند هم د زیانونو کچې او د خلکو شمېر ته په کتو یاده مرسته کمه بللې، خو په خبره یې، هغه کسان چې له دې مرستې پاتې کېږي، په راتلونکي پلان کې ورته ځای ورکوي او هڅه یې دا ده چې مرسته ور سره وشي.

## فیفا: د ټاکنو خپلواک کمېسیون د عملیاتي پلان په برخه کې هېڅ پرمختګ نه دی کړی

د ازادو او عادلانه ټاکنو د څار بنسټ یا فیفا ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو د عملیاتي پلان په برخه کې هېڅ پرمختګ نه دی شوی.

هغه ویلي: «د تخنیکي او عملیاتي کارونو په برخه کې په خواشینۍ سره چې پرمختګ نه لرو، د ثور په ۲٦مه باید نوملیکنه پیل شي، د عامه پوهاوي پروګرام نشته، په کومو ولایتونو کې به څومره مرکزونه فعال وي او څو ورځې به کار کوي او څومره کارکوونکي به پکې بوخت شي، دوی چې په خوله څه وایي، په عمل کې پرمختګ نه لري».

د ټاکنو د مهالوېش د پلي کولو څرنګوالی، د ټاکنو د بودجې او د لوجستیکي برخې نه څرګندېدل، د رایې ورکوونکو د نوملیکنې لپاره د اطلاعاتو نشتون او دا چې په کومو ولایتونو کې به څومره مرکزونه خلاص وي، په عملیاتي پلان کې شامل دي.

نوموړي دغه راز ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دغو پروګرامونو لپاره یوه کړنلاره هم نه ده تصویب کړې.

په ورته وخت کې د تقویتي یا په ولسي جرګه کې د رایې ورکوونکو د نوملړ پر اساس د نوملیکنې د پروسې پیل ته درې ورځې پاتې دي.

که څه هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، دغې پروسې ته اماده ګي لري، خو څارونکي بنسټونه بیا وایي چې د ولسي جرګې د رایې ورکوونکو فهرست ته اعتبار ورکول دا ښيي چې دغه کمېسیون له عملیاتي پلانه لرې پاتې دی.

### د ملکیانو د خوندیتوب ډله:

## طالبان دې د سولې خبرو د بریا لپاره خپل بریدونه ودروي

گروه دادخواهی حفاظت از افراد ملکی

ملکي وګړو خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ

۵ مخ

## در پنج سال نزدیک به صدهزار رویداد جنایی در کشور رخ داده‌اند



مسعود اندرابی، سرپرست وزارت امور داخله گفته است که در پنج سال اخیر نزدیک به صدهزار رویداد جنایی در کشور رخ داده‌اند.

آقای اندرابی که دیروز در نشستی با شماری از شهروندان در کابل سخن می‌زد، افزود که رویدادهای جنایی کاهش یافته‌اند.

او بیان داشت: «در صورتی‌که پولیس با مخالفت مسلحانه روبه‌رو می‌شود، با عمل همانند در چارچوب پولیس افغانستان مواجه می‌شوند».

امان الله چمتو، رئیس ارکان ریاست مبارزه با جرایم جنایی وزارت داخله نیز در این نشست گفت که در این مدت نزدیک به ۱۱۵ هزار تن در پیوند به این جرایم بازداشت کرده‌است.

این در حالی است که شماری از باشنده‌گان کابل، از آن‌چه که افزایش بی‌پیشینهٔ رویدادهای جنایی در کابل سخن می‌زنند، ابراز نگرانی می کنند.

فرزام عدالت، باشندهٔ کابل گفته است: «نهادهای امنیتی بسیار کم توجه استند و نسبت به گذشته این جرایم روز به روز زیادتر می‌شوند».

این نگرانی‌ها در حالی ابراز می‌شوند که تفنگ‌داران ناشناس دو روز پیش، مینه منگل، یک کارمند پیشین رسانه‌یی را در شهر کابل با شلیک گلوله کشتند. پولیس کابل گفته است که تحقیقات آغاز شده اما تاکنون کسی بازداشت نشده‌است.

با این همه، سرپرست وزارت داخله می‌پذیرد که مبارزه با جرایم جنایی و دسته‌های جنایت‌پیشه، به‌گونهٔ درست و قابل قناعت مردم انجام نشده‌است.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــځ

### د سولې خبرې له کوم جدي خنډ سره مخ شوې دي؟

په قطر کې له طالبانو سره د امریکایي پلاوي له شپږم پړاو خبرو وروسته اوس داسې ښکاري، چې دا خبرې بې پایلې وې. تمه وه چې دا ځل به په خبرو کې مهم پرمختګ وشي، خو طالبانو او زلمي خلیلزاد له خبرو وروسته دومره وویل، چې خبرې ښې وې. خلیلزاد زیاته کړه چې په چټکۍ سره باید مخکې ولاړ شو، خو طالبانو ویلي چې پاتې مسایل به په راتلونکو غونډو کې حل شي. د دواړو اړخونو له څرګندونو ښکاري، چې د شپږم پړاو خبرې ښې نه وې. اوس پوښتنه دا ده چې د سولې خبرې له کوم جدي خنډ سره مخ شوې دي؟

تر شپږم پړاو وړاندې باید په قطر کې بین‌الافغاني غونډه شوې وی، خو د غونډې د ګډونوالو پر سر د اختلاف له امله دا غونډه ونه شوه. په دې غونډه کې امریکا غوښتل طالبان د دوی د دریځ خلاف له حکومتي پلاوي سره مخ کړي، خو طالبانو مقاومت وکړ او پایله یې هم دا شوه چې غونډه ونه شي. ظاهراً داسې ښودل کېده چې حکومت ناسم لېست جوړ کړ او د غونډې پر وړاندې خنډ شو، خو څه چې حکومت کول، هغه د امریکا په خوښه وو، ځکه امریکا غوښتل حکومت له طالبانو سره مخ کړي. طالبانو دا هر څه درک کول او ورته ښکارېدله چې امریکا د دې غونډې په جوړولو کې هغسې جدي نه وه، لکه د مسکو په غونډه کې چې وه.

له بله اړخه د سولې له خبرو سره هممهاله پر وسله والو طالبانو او کلیوالو شپنیو عملیاتو او چاپو زور اخیستی دی. خلیلزاد بیا بیا له طالبانو غوښتل چې جګړه کمه کړي، خو امریکا خپله جګړې ته زور ورکاوه. همدې چارې پر قطري طالبانو د نظامي طالبانو فشار زیات کړ او دا پر امریکا د شک لامل شو. طالبان چې په جګړه کې ښه نیولي وو، خپله هم را وړاندې شول او پایله یې د څو وروستیو ورځو د جګړو او وژنو شدت دی.

د قطر د شپږم پړاو خبرو د جزیاتو په اړه هم ویل کیږي، چې خلیلزاد ډېر زیات ټینګار کړی چې طالبان باید اوربند او له افغان حکومت سره خبرې وکړي. که څه هم پر نورو مسایلو خبرې شوې، څه پرمختګ هم شوی دی، خو خلیلزاد ویلي چې که طالبان دا ونه مني، نو ستونزه نه حل کېږي. طالبان بیا پر خپل دریځ ولاړ دي او وایي چې له امریکا سره د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د چا پر ضد د افغان خاورې پر نه استعمال له توافق وروسته به پر اوربند او نورو چارو له افغانانو سره خبرې کوي. همدې چارې ستونزه پیدا کړې او پر شپږم پړاو خبرو یې هم ژور سیوری غوړولی و.

طالبانو ته نږدې کسان وایي چې خلیلزاد بیا بیا په خبرو کې خپل دریځ بدلوي، پر پخوانیو هوکړو له سره بحث کوي او پر اصلي موضوعاتو د بحث پر ځای فرعي او کم ارزښته مسایلو ته پام کوي. له همدې امله طالبان داسې احساس کوي چې امریکا نه غواړي په رښتیني ډول سوله وکړي. اوس داسې ښکاري چې طالبان د سولې لپاره د امریکا پر اراده بې باوره کېږي او امریکا هم فکر کوي چې طالبان له خپل دریځه نه شي اړولی، چې دې چارې د سولې خبرې له یوه جدي خنډ سره مخ کړې دي. که د طالبانو دریځ نرم نه شي او امریکا ثابت او رښتینی دریځ غوره نه کړي، نو دا وېره زیاته ده چې دا خبرې به له ناکامۍ سره مخ شي.

# افغان کډوال؛

## پر لوېدیځ د ایران د فشار وسیله

لیکنه: بي بي سي فارسي / ژباړه: مسیر ورځپاڼه

افغانانو ته په ایران کې هېڅ وخت چا ښه راغلاست نه دي ویلي، درې لسیزې یې په کم مزد سخت کارونه کړي، انساني حقوقو ته یې هېڅ پاملرنه نه ده شوې او که شوې هم ده، هغه ډېره کمه ده، د هغوی ځینې ډلې د ایران لپاره جنګېدلې، هغوی مړه شوي او اوس پر غرب د فشار د یوې وسیلې په توګه له ایرانه ایستل کېږي.

ځینو ایراني چارواکو دوې ورځې مخکې وویل، چې که پر ایران د بندیزونو لړۍ دوام پیدا کړي، دغه هېواد مجبور دی چې افغان مهاجر له ایران څخه وباسي. دا موضوع سربېره پردې چې اقتصادي جنبه لري، په واضح ډول پر غربي هېوادونو یو فشار دی، ځکه له ایرانه د افغان مهاجرو ایستل به په اروپایي هېوادونو کې د هغوی د ځای پر ځای کېدو وېره پیدا کړي.

له دې ټولو سره سره، ایراني چارواکي وایي چې نوی اقتصادي فشار د بندیزونو د تصمیم انګېزه ده. له دغو تصمیمونو مخکې هم ډېری افغان مهاجرین، د نورو بهرنیو اسعارو په بدل کې د ایراني ریال د ارزښت کمولو له امله له دغه هېواد څخه وتلي او یا د وتلو قصد لري. دغه خبره بیا ډېره د هغو افغان مهاجرو په حق کې صدق کوي، چې د خپلې کورنۍ نفقه په دغه هېواد کې د کار کولو له لارې پیدا کوي، خو له دې سره سره د دغو مهاجرینو لویه برخه هغه خلک دي، چې لسګونه کاله یې په ایران کې ژوند کړی دی او هرڅه یې هلته اباد کړي دي. د دغو مهاجرو لپاره ایرانی ریال هماغومره ارزښت لري، لکه ایراني وګړو ته یې چې لري.

**له بشري حقوقو محروم**

که له ایران څخه په رښتیا هم افغان مهاجر ټول و ایستل شي، په دغه هېواد کې به لویې اقتصادي ننګونې رامنځ ته شي. هغه وروستی رقم چې د افغانستان د کډوالو وزیر ورکړی دی، نږدې دوه میلیونه او ۴۰۰ زره افغانان په دغه هېواد کې مهاجر دي. له دې ډلې یې یو میلیون او ۴۰۰ زره کسان په ایران کې د پاتې کېدو رسمي اسنادونه لري او پاتې یې بیا هېڅ رسمي مدرک نه لري. په دغه هېواد کې د افغان مهاجرینو شمېر درې میلیونه هم اټکل شوی دی. دغه شمېرې ښیي چې د ایران په سلو کې درې سلنه نفوس افغان مهاجرینو جوړ کړی دی، خو هغوی د دغه هېواد دننه هېڅکله په رسمیت نه دي پېژندل شوي. له هغوی سره د ایران د دولت خشن، قانوني او غیر قانوني بد چلند او پرله پسې د هغوی ایستل (په کال کې ۱۵۰ زره کسان) او همدارنګه هغه بد ټولنیز وضعیت چې دوی یې لري، په دغه هېواد کې د دوی لپاره تر ټولو پر سختو او بدو تجربو بدل شوي دي.

ډېری افغان مهاجرین هلته په ټولنیز لحاظ ښه ژوند نه لري او د تر ټولو سخت او درانده کار لپاره ګومارل شوي دي. په ایران کې ډېری افغانان درند د ودانیو جوړولو کار کوي. دغه مهاجر له ډېرو انساني او کاري حقوقو څخه بې برخې دي. ډېر هغه کسان چې پېژندپاڼې نه لري، د هغو افغان مهاجرو اولادونه دي، چې له ایراني ښځو سره یې ودونه کړي دي. د ایران د قوانینو پر اساس، په دغه دولت کې د کسب وکار پیدا کولو لپاره باید د ایراني الاصله پلار پېژندپاڼه ولري. همدغه موضوع د ډېرو افغانانو اولادونو ته د ستونزې رامنځ ته کېدو سبب شوې ده.

تر ۱۳۹۴ لمریز کال پورې چې د ایران ولسمشر په ټولو مدرسو او ښوونځیو کې د افغان ماشومانو د داخلېدو امر ورکړی و، په دغو ښوونیزو نهادونو کې د هغوی نوملیکنه بیا تر ټولو لویه ستونزه وه. له دې امر وروسته بیا هم په دغو ښوونیزو نهادونو کې د سلیقوي برخورد له مخې هغوی ته د نوملیکنې اجازه نه ورکول کېده. په ورته وخت کې سره له دې چې د دولت د حکم پر اساس، په ایراني ښوونځیو او مدرسو کې افغان مهاجرو ته زده کړې وړیا دي، بیا هم هغوی له افغانانو درنده مالیه اخیستې، چې تر ډېره به د هغوی په وس پوره نه وه او همدا کړنه د ډېریو افغان ماشومانو لپاره له زده کړو د پاتې کېدو لامل شوې ده. که په دولتي پوهنتون کې افغان مهاجر منل شوي هم وای، بیا یې هم باید د شپې د محصلینو د فیس اتیا سلنه برخه ورکړې وی.

په دې وروستیو کلونو کې له افغان مهاجرو سره زور زیاتی په دغه هېواد کې تر حد اوښتی دی، چې ښه نمونه یې د افغان مهاجرو ناروغیو ته نه پاملرنه ده. په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د هغې افغاني ماشومې د ناروغۍ کیسه رسنیزه شوه، چې د زړه پر ناروغۍ اخته وه او ایراني ډاکټرانو یې عملیات ونه کړ. هغه وخت د ایران د روغتیا وزیر بهداشت د بهرنیو وګړو دې دا ډول ناروغیو نه درملنه د ایراني وګړو د حرمت ساتل بلل. تېر کال هم یو افغان سپین ږیری له دې امله چې د ناروغۍ د درمل وس یې نه درلود، له روغتون څخه وایستل شو. له افغان مهاجرینو سره د ایراني وګړو دغه چلند یوازې تردې کرښې محدود پاتې نه شو. په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د ایران دولت یوازې په ۱۴ ولایتونو کې د افغان مهاجرینو اوسېدو ته اجازه ورکړه. له دې پرېکړې یو کال مخکې په ایران کې د افغان مهاجرینو د ځورولو پر سر پیسې ورکول کېدې. دغه کړنې ټولنې ته هم پراخې شوې او ځینو ولایتونو لکه یزد ته د افغان مهاجرینو د داخلېدو د مخنیوي کمپاین شروع شو. اوس هم له افغان مهاجرینو سره ورته عمل کېږي او دا چاره بېخي عادي شوې ده.

**د افغان کډوالو له لورې د کاري فرصتونو د کمولو افسانه:**

کلونه کېږي چې د ایران ځینې اوسېدونکي او په ځانګړې توګه چارواکي، افغان کډوال په دغه هېواد کې د بېکارۍ د ډېرېدو یو عمده لامل ګڼي. د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال عباس عراقچي هم، چې په تازه څرګندونو کې یې له دغه هېواده د افغان کډوالو د ایستلو خبره مطرح کړې، دلیل یې دا په ډاګه کړی چې ګواکې دغه څه یې دولت ته په ګرانه بیه تمامېږي. نوموړي ویلي، افغان کډوالو اوسمهال دوه میلیونه کاري فرصتونه نیولي، په کلني ډول له دغه هېواده له دریو تر پنځو میلیاردو ډالر له ځانه سره وباسي. هغه دغه راز ویلي چې د افغان کډوالو شتون په ټوله کې په کلني ډول دغه هېواد ته په اته میلیارده ډالرو تمامېږي.

نوموړي په داسې حال کې دغه شمېرې وړاندې کړې، چې د څېړنو له مخې، د افغان کډوالو شتون په دغه هېواد کې د بېکارۍ پر کچه چندان اغېز نه لري. په ورته وخت کې افغان کډوال او کارګر په دغه هېواد کې د کار له ډېرو حقونو لکه، بیمې، روغتیایي حقونو او د ثابتې مزدورۍ نشتوالي او له یو شمېر نورو اسانتیاوو څخه بې برخې دي. حتی ځینې وختونه په دغه هېواد کې د کار ډېری څښتنان د دوی له ناقانونې کډوالۍ څخه په ګټې اخیستنې، د دوی پیسې او مزدوري هم نه ورکوي او که یې ورکوي هم، په ډېره کمه اندازه او هغه هم له ډېرو ستونزو او ناندریو وروسته.

په ایران کې د افغان کډوالو نشتون د شته باورونو خلاف، د کار د ښه کېدو او یا د دغه هېواد د اقتصادي ودې لامل نه کېږي. د دغه څه ښه ثبوت هم دا دی، کله چې په دې وروستیو کې ځینو افغانانو د ناسمو اقتصادي شرایطو او په دغه هېواد کې د مزدورۍ د کچې د راټیټېدو له کبله خپل هېواد ته د راستنېدو لړۍ چټکه کړې، ورسره سم د دغه هېواد د پارلمان ځینو استازو له ایرانه د دوی په وتلو اندېښنه ښودلې او حکومت ته یې سپارښتنه کړې، چې د دغه کار د مخنیوي لپاره په نوو لارو چارو غور وکړي.

د ایران په پارلمان کې د تهران د خلکو استازي عبدالرضا هاشم زایي حکومت ته خبرداری ورکړی: «له ایرانه د افغان کډوالو وتل به په دغه هېواد کې د رغونې چارې له ستونزو سره مخ کړي او دا هغه څه دي چې د مخنیوي لپاره یې باید پر نویو لارو چارو فکر وشي».

له هغه وخته چې افغان کډوال په دغه هېواد کې مېشت شوي، ډېریو یې له ایراني نجونو سره ودونه کړي، نو له همدې کبله به له دغه هېواده د افغان کډوالو ایستل په ځانګړې توګه په هغو ښارونو کې، چې دغه کچه پکې لوړه ده، له ستونزو سره مخ کړي.

بلخوا د دغه هېواد د قانون له مخې، هغه ماشومان چې مور یې ایرانۍ او پلار یې د بل هېواد تبعه وي، تر اتلس کلنۍ پورې نه شي کولای، چې د دغه هېواد پېژندپاڼه ترلاسه کړي.

له همدې کبله اوسمهال د ډېریو افغان کډوالو ژوند په یو ډول له ایرانیانو سره تړلی، چې د دوی په ایستلو سره به په دغه هېواد کې ترینګلی حالت رامنځته شي، چې پایلې به یې د ایران په زیان تمامې شي. له بلې خوا، له یوه هېواده په دومره لوړه اندازه د کډوالو ایستل، چې د دغه هېواد د ټول نفوس درې سلنه برخه جوړوي، نه یوازې دغه هېواد ته په اقتصادي برخه کې، بلکې په ټولنیزه برخه کې هم لویه ضربه واردولی شي.

د ایران حکومت هم په تېرو کلونو کې د افغان کډوالو پر وړاندې دوه ګونی چلن کړی. که دغه هېواد ته د کډوالو ورتګ د اقتصادي ودې د ټیټېدو او یا هغو ستونزو لامل شوی وي، چې اوسمهال یې دوی یادوي، نو ولې یو داسې حکومت چې ځان پیاوړی هم بولي، د دغه څه مخنیوی نه کوي؟ نو چې دغه کار یې کولای هم شوای، له دې څخه معلومېږي چې په دغه هېواد کې د کډوالو شتون په سیاسي او اقتصادي لحاظ ګټور و.

ایراني چارواکو په ۱۳۹۲ لمریز کال کې هم وویل چې نه شي کولای له خپل هېواده ټول افغان کډوال وباسي، ځکه چې په دې سره به د دغه هېواد د اقتصادي څرخ ځینې برخې فلج شي. داسې ښکاري چې په اوس وخت کې به ایرانی حکومت پر دې وتوانېږي، چې په یو ځل ټول افغان کډوال له خپل هېواده وباسي او دا په حقیقت کې پر لوېدیځ او په ځانګړې توګه پر امریکا د فشار یوه وسیله ده.

ایران له دغه څه وړاندې د نشه یي توکو د قاچاق د یوې وسیلې په توګه استفاده کوله. ایراني چارواکو په ځلونو لوېدیځ ته خبرداری ورکړی و، چې که د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوی ونه کړي، دغه پدیده به ټولې اروپا ته ورسېږي.

په هر صورت، که له ایرانه د افغان کډوال ایستل پر لوېدیځ د فشار او یا هم د دغه څه په پلي کېدو کې دغه هېواد جدي وي، نو په یو ډول د افغان کډوالو ژوند اغېزمنولی شي.

## عمر داوودزی د سولې په تړاو د خبرو لپاره جرمني او هند ته په سفر وتلی دی

د سولې په اړه د سیمه ییزې اجماع رامنځته کولو په چارو کې د ولسمشر ځانګړی استازی او د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس محمد عمر داوودزی جرمني ته تللی دی.

د سولې عالي شورا ویاند جاوید احمد غفور ویلي، چې له نوموړي سره په دغه سفر کې لوړپوړی پلاوی هم ملتیا کوي. هغه زیاته کړې، چې داوودزی به په دغه سفر کې د جرمني له لوړپوړو چارواکو سره د افغان سولې په اړه خبرې اترې وکړي.

د نوموړي په خبره، له جرمني وروسته به عمر داوودزی هندوستان ته ولاړ شي او هلته به د دغه هېواد د بهرنیو چارو د وزیرې تر څنګ، له نورو چارواکو سره د سولې په اړه خبرې وکړي.



د یادونې ده چې د افغان سولې په اړه د سیمه ییزې او نړیوالې اجماع رامنځته کولو لپاره هڅې ګړندۍ شوې دي، چې په دې برخه کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ځینو هېوادونو ته سفرونه کړي دي.

دغه راز د افغانستان لپاره د چین ځانګړي استازي هم څو ورځې مخکې هند ته د سفر پر مهال، د افغان سولې په اړه سلا مشورې کړې وې.

د داوودزي دغه سفر داسې مهال دی، چې تر دې وړاندې تېره اونۍ په قطر کې د امریکایي او طالب استازو ترمنځ شپږم پړاو خبرې پای ته ورسېدې. له دغو خبرو وروسته دواړو لورو وویل چې خبرې ګټورې وې او یو څه پرمختګونه هم شوي، خو دا یې په ډاګه نه کړه چې دغه خبرې به کله وروستۍ کېږي.



# د افغان جگړې او سولې په اړه نوې محاسبې

ليکنه: انتظار خادم

د يوويشتمې پېړۍ د نړيوالتوب په څپه کې هم فردي او هم ډله ييز سياستونه بدل شوي دي. حکومت هرو مرو اړ دی چې نوې لار او کار پيدا کړي. ملي سياستونه، خپلواکي، ثبات او رغښت په زاريو نه راځي. دا سمه نه ده چې ووايو امريکا ۱۲ زره کيلومتره لرې د افغان ښځو د حقونو او اقتصادي ټيکاو لپاره راغلې وه. هغه يو متل دی چې وايي: «له سيند نه پورې غاړې اور دی، نه پرې گرم نه پرې يخ». ولې بهرنيان زموږ پر مړو باندې ساندې ووايي؟ ولې يې زموږ په وژونکي فقر زړه بد شي؟ ولې فساد د ځان لپاره خطر وگڼي؟ ولې دا هر څه زموږ لپاره وکړي؟ بلکې هېڅ هم زموږ لپاره نه کوي؛ خپل ځان، پلان، اينده، ولس، تاريخ او خپل هېوادونه يې لومړيتوب دي.

دا هم ناسمه ده چې ووايو، په مسکو کې چين، امريکا او روسيې وروستۍ ناسته د ترحم، سړيتوب او اخلاقو نښانه ده، بلکې ناجوړ، ناسم او نا امن افغانستان اوس لږ تر لږه ۱۵ کاله د هېچا په گټه هم نه دی. چينايان د سيمه ييز او نړيوال اقتصاد د مهار په لټه کې دي. يو کمربند- يو لار د دغه نوښت مهمه برخه ده او بې د افغانستان له ثباته دا لړۍ نا تکميله گڼل کېږي. روسان نه يوازې دا چې له خپلو گاونډيو سره پر سړه جگړه اخته دي، د ناټو له غړو هېوادونو سره هم اړيکې جوړول غواړي. په کور دننه ټيکاو، سيمه ييزه ياري او نړيوال تفاهم يې لومړيتوب دی. که امريکايان يو دم ووځي، روسان د افغان جگړې سمبال نه شي کولی، په داسې حال کې چې د سولې په بدل کې به نه يوازې دوی ته لوی خطر، يعنې امريکا له افغانستانه ووځي، بلکې دوی به له امريکا وغواړي چې په اوکراين کې مداخله ونه کړي، د ناټو غړي هېوادونه له روسانو سره سوداگرۍ ته پرېږدي، په سوريه، يمن او هغو هېوادونو کې چې په جغرافيايي لحاظ روسانو ته نږدې دي، لاسوهنه ونه کړي، د تورونو لړۍ شا ته پرېږدي او تر ډېره بريده په منځني ختيځ کې د روسانو د تقلې مخه ډپ نه کړي.

امريکايان ۱۸ کاله په افغانستان کې دي، دا جگړه د عامو امريکايانو په پيسو، د ناټو په ملاتړ او د افغانانو په قرباني روانه ده. عام امريکايان د جنگ پايله غواړي، عام افغانان سوله غواړي او ناټو بېرته تگ ته ميلان لري. ټرمپ سوداگر دی؛ هغه پيسې گټل غواړي، نه مصرفول، په داسې حال کې چې افغان جگړه د پيسو جرړه وباسي، خو په ورته وخت کې امريکايان په کور دننه د افغان جگړې په اړه سره ورک او مخالف دي.

موږ نه شو ويلای چې امريکا نوره د افغان جگړې د مصرف توان نه لري؛ ځکه امريکا نن هم د بانک، پيسو، طلا، سلاح، اټوم، قانون، واک، اقتدار، حيثيت او دبدبې خاونده ده، اوس هم د ناټو لوی مصرف دوی ورکوي، اوس هم ملگري ملتونه د دوی په قبضه کې دي، اوس هم عربي هېوادونه د دوی خدمت کوي، اوس هم د نړۍ د گوټ گوټ هېوادونو مشران بې قيده او شرطه د دوی سلامي کوي؛ ځکه نو د افغان جگړې لپاره ۵۰ ميليارده ډالر پيدا کول دومره لويه خبره نه ده، په داسې حال کې چې عسکر پکې د افغان ملت وژل کېږي.

نو ويلای شو چې د ټرمپ کرکټر، د امريکا د جنوبي اسيا پاليسي او د خليلزاد لار او د ماموريت شدت د امريکا د دريځ ښکارندويي کوي. دا چې د افغان جگړې عوامل څلور ډوله، يعنې کورني، نږدې گاونډي، سيمه ييز او نړيوال دي؛ ځکه نو د سولې په راتگ کې هم بايد د قضيې دا اړخونه وڅېړل شي. د سولې او تلپاتې سولې فرق دا وي، چې په تلپاتې سوله کې د جگړې ټول عوامل مرفوع کېږي، په داسې حال کې چې تش په نامه سوله د اړخونو ترمنځ تفاهم او تعامل دی.

په کور دننه فساد، جرمي اقتصاد، بې سوادي، فقر، بېکاري، بده حکومتولي، ځان غوښتنه، افزاري سوله او ملي غفلت د جگړې عوامل دي، په داسې حال کې چې په افغان خاوره کې مذهبي، سياسي او اقتصادي نيابتي مقابله د دې جگړې د تدوام سبب گرځېدلې ده. بلخوا د ناټو مذبذب دريځ او غير مشخص نقش جگړه بې خونده کړه. امريکا د افغان جگړې لپاره نه ليکلي اهداف لرل او نه يې د پای نېټه؛ که د جگړې هدف د طالبانو د رژيم سقوط و، نو طالبان په يوه نيمه مياشت کې له منځه ولاړل، نو لازمه وه چې امريکا بېرته وتلې وای. که هدف د ښځو حقوق، اقتصاد، حکومتولي، پوځ او نظام وای، نو هغه ماموريت لا نه دی تکميل؛ ځکه چې نه امريکا پوهېده چې څه کوي، نه يې ملگري او نه هم افغان حکومت. په هر صورت، د سولې د راتگ لپاره دا پورته څلور عوامل له منځه وړل غواړي، څو تلپاتې سوله راشي.

نور عوامل پر خپل ځای دي، مگر دا چې اوس چينايان، روسان او امريکايان د جنگ پر پای ته رسولو سلا شوي دي او سوله په گډه راولي، د سولې د منتظرينو لپاره ښه زېری دی. په ۲۰۰۱ ز کال کې روسان او چينايان له امريکايانو سره د افغان جگړې په اړه خوله په خوله وو، خو ورو ورو دا دواړه هېوادونه د ماموريت د سلا مشورو له بهيره و ايستل شول. چينايانو او روسانو تر ۲۰۰٦ ز کال پورې صبر وکړ، فکر يې کاوه چې دوی قصداً نه، بلکې د جگړې د شدت له امله له امريکايانو هېر شوي، خو ورو ورو پوه شول چې نه دا د امريکا پاليسي ده. له ۲۰۰٦ ز کال راهيسې چينايانو خاموشي اختيار کړه، په داسې حال کې چې روسان په مورچه کې کېناستل او د گوزار په انتظار وو. پر دې نه غږېږو چې د چينايانو او روسانو دغه دريځ افغانانو ته څومره تاوان ورساوه او پر دې هم نه غږېږو چې امريکا په دغه دريځ کې دا جگړه څومره اوږده او خونړۍ کړه، خو پر دې هرو مرو غږېږو چې اتلس کاله وروسته د سيمه ييز تفاهم دغه فرصت برابر شوی او بايد چې گټه ترې واخيستل شي. اوس افغانستان د تاريخ نوې څپې ته شامل شوی دی، افغانستان نوی فرصت اخيستی. د سولې په راتگ کې بايد ټول ياد اړخونه خپل جلا جلا مسووليتونه ادا کړي. ټول اړخونه بايد د يوه او بل تکميلوونکي شي او داسې سوله د افغانانو نصيب کړي چې افغانان په کور دننه د ارام ساه واخلي، د جنازو لړۍ ودرېږي، نورې ميندې بورې نه شي، افغانان د مرگ په انتظار ونه اوسي، کورونه يې وران نه شي، طالب او عسکر د يوه بل په مرۍ چړه کې نه ږدي او بهرنيان خپلو کورونو ته ستانه شي او خپل ژوند په افغان سردرو کې له لاسه ورنه کړي.

# په افغانستان کې؛ د امريکا خونړۍ جگړې نه يوازې افغانان، بلکې امريکايان هم ستړي کړي دي



په افغانستان کې د امريکا اوږدې جگړې نه يوازې افغانان، بلکې عام امريکايان هم ستړي کړي دي. له کلونو راهيسې په امريکا کې د جگړې ضد خوځښتونه او مدني فعالان په افغانستان کې د خپل هېواد د نظامي حضور پای غواړي، خو په دې وروستيو کې دغه ډول غوښتنې او حرکتونه ډېر شوي دي. ډېرې امريکايي رسنۍ په دې اړه ليکنې کوي او ډېر امريکايي فعالين او ليکوالان په افغانستان کې د امريکا جگړه بې گټې او خونړۍ بولي. امريکايي وگړي پر دې باور دي چې په افغانستان کې يې د پوځيانو جگړه بې هدفه روانه ده او دوی بريالي شوي نه دي، چې هلته ترهگري ماته او ولسواک نظام حاکم کړي. له همدې امله يې په ځلونو له حکومت څخه غوښتي، چې دغه جگړه پای ته ورسوي. تازه يوه امريکايي ميلياردر د دې جگړې د پای ته رسولو لپاره پر تبليغاتو پيل کړی دی او ويل کېږي چې ميليونونه ډالر به ورباندې ولگوي.

د افغان جگړې د دوام په اړه امريکايي وگړو د غبرگونونو په دوام، تازه د سي ان ان د يوه خبر له مخې، د امريکا د متقاعدو عسکرو ستره ډله له ولسمشر ټرمپ غواړي چې د افغانستان او سوريې په اړه پر خپلو کړو ژمنو وفا وکړي او امريکايي عسکر له دغو هېوادونو راوباسي. دا متقاعد عسکر چې د امريکا د ميلياردر کوک له خوا تمويلېږي، وايي چې ټرمپ وعده کړې وه، چې ستر ملتونه په ابدي جنگونو کې ځان نه بندوي.

ويل کېږي چې دغه ډله به د ټولنيزو رسنيو ترځنگ، په انځوريزو او غږيزو رسنيو کې پراخ تبليغات کوي او د ټرمپ له حکومت څخه به غواړي چې ژر تر ژره پر خپلو ژمنو عمل وکړي او دلته د روانې جگړې د پای ته رسولو لپاره عملي اقدامات پيل کړي. د دغه کمپاين تنظيموونکي هم وايي چې په کانگرېس کې به هم د خپلې غوښتنې لپاره لابي وکړي او د امريکا په گوټ گوټ کې به سترې غونډې او جلسې جوړې کړي.

د دې تر څنگ، څو ورځې وړاندې په امريکا کې هغو سرتېرو يوه غونډه جوړه کړې وه، چې تازه له افغانستان څخه ستانه شوي وو. دوی له امريکايي حکومت څخه وغوښتل، چې په افغانستان کې روانه جگړه پای ته ورسوي او د امريکايي وگړو غږ واوري. بل پلو نيويارک ټايمز مجلې بيا په تازه څرگندونو کې ويلي، چې پنټاگون له يوه کال راهيسې امريکايي وگړو ته د افغانستان د جگړې په اړه معلومات نه دي ورکړي.

د نيويارک ټايمز ورځپاڼې په مطلب کې په افغانستان کې د جگړې په تړاو، د امريکا د حکومت پر کړنو نيوکه شوې او په دې اړه يې ليکلي چې د امريکا حکومت ته پکار دي، چې د افغان جگړې په اړه له امريکايي ولس سره رښتينولي وکړي. ليکوال وايي، نږدې له يو کال راهيسې د امريکا دفاع وزارت د افغانستان په اړه ولس ته څه نه دي ويلي. د ليکوال په باور، که امريکا په افغانستان کې د بريا تمه نه لري، نو دا په دې معنی نه ده چې د حساب کتاب بهير دې ودرول شي.

بل پلو په افغانستان کې تازه د ملکي وگړو د خونديتوب او عدالتغوښتنې ډلې تر څنگ، ډېرو مدني خوځښتونو روانه جگړه د عامو افغانانو په زيان بللې ده. دوی پر امريکا، افغان حکومت او طالبانو غږ کړی، چې دغه جگړه پای ته ورسوي او په خپلو کې ستونزې د خبرو له لارې حل کړي. د يادو ډلو په خبره، په جگړه کې تر بل هر چا عام افغانان ډېر وژل کېږي، نو بايد ودرول شي او يوه اوږدمهاله اوربند ته لار هواره شي.

د مشرانو جرگې مشر فضل الهادي مسلميار هم د دغه جرگې په وروستۍ غونډه کې ويلي وو، چې د جگړو او په تېره شپنيو عملياتو ۹۵ سلنه قربانيان عام افغانان دي. نوموړي پر ښکېلو خواوو د جگړو د درولو او سولې غږ کړی دی. هغه همدا راز په کلکه د شپنيو عملياتو مخالفت کړی دی او هغه يې د عامو افغانانو په زيان بللي دي.

روحاني:

# پر ايران نړيوال فشارونه په اسلامي انقلاب کې بې ساري دي



د ايران ولسمشر حسن روحاني ويلي چې له روانو اقتصادي ستونزو سره د مقابلې لپاره بايد د سياسي ډلو ترمنځ يووالی رامنځته شي.

نوموړي ويلي چې د ايران د دښمنانو له خوا دغه فشارونه د اسلامي انقلاب په تاريخ کې بې ساري دي.

د ايران د دولتي خبري اژانس ايرنا د راپور له مخې، روحاني د بېلابېلو سياسي ډلو فعالانو ته په وينا کې ويلي، نشي ويلای چې اوسني شرايط د ۱۹۸۰ او ۱۹۸۸ ز کلونو ترمنځ د ايران او عراق د جگړې تر کلونو ښه دي که بد، خو په خبره يې چې هغه مهال ايران په بانکونو، د تېلو د خرڅلاو او د وارداتو او صادراتو په برخو کې ستونزې نه لرلې او يوازې د وسلو په رانيولو کې له بنديزونو سره مخ و.

خو نوموړي ويلي چې دی له دې ټولو ستونزو سره سره ناهيلی نه دی، راتلونکي ته ډېر هيله من دی او باور لري چې که د سياسي ډلو ترمنځ يووالی راشي، نو دا سخت شرايط به اسانه شي.

دا په داسې حال کې ده چې په ايران کې اقتصادي بحران په تېر يوه کال کې له هغه را وروسته پراخ شو، چې ولسمشر ټرمپ له دغه هېواد سره له شوې اټومي هوکړې د امريکا د وتلو اعلان وکړ او هغه بنديزونه يې بيا ولگول، چې د اټومي هوکړې له لاسليک وروسته لغوه شوي وو.

د ايران د تېلو او اوسپنې پر صادراتو د بنديزونو موخه دا ده، څو پر دغه هېواد فشارونه زيات شي او د هغو اقداماتو بندولو ته اړ شي، چې واشنگټن يې ورانکاري فعاليتونه بولي.

متحده ايالتونه وايي، ايران د اټومي وسلو د جوړولو هڅه کوي او په سيمه کې د تروريستي ډلو ملاتړ کوي، خو تهران دا تورونه ردوي.

د امريکا د بنديزونو په نتيجه کې په ايران کې د پيسو پړسوب يا انفلاسيون خورا زيات شوی، د خوراکي موادو بيې ډېرې لوړې شوې او حتی څو ځلې د خصوصي او دولتي ادارو کارکوونکي د مظاهرو لپاره واټونو ته راووتل، څو د کار د شرايطو، د تنخواگانو په ترلاسه کولو کې د اوږده ځنډ او حتی کله ناکله د نه تر لاسه کولو پر وړاندې اعتراض وکړي.

روحاني له يوې خوا د افراطي مشرانو له انتقادونو سره مخامخ دی او له بلې خوا خپلو منځلارو متحدانو لاس ترې اخيستی دی.

په همدې حال کې امريکا په خليج او منځني ختيځ کې د خپل پوځي حضور د پياوړي کولو په حال کې ده، څو د هغه څه پر وړاندې چې واشنگټن يې د ايران زياتېدونکی گواښ بولي، مقابله وکړي.


پنټاگون د تېرې جمعې په ورځ وويل، دوی (د USS Arlington) په نوم يوه بله جنگي بېړۍ سيمې ته استوي، څو د ابراهام لېنکن په نوم له مخکينۍ بېړۍ سره يو ځای شي او همدا راز څو B-۵۲ بم غورځوونکې الوتکې يې هم سيمې ته استولې دي.

## د کتاب خبري

# د لوی فکر جادو

- ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارټز
- ژباړن: ميراحمد ياد

### لسم څپرکی
### عمل مو عادت کړئ




د ټولو رشتو مخکښان پر يوې مسألې اتفاق لري او هغه دا چې په هر ځای کې گټورې او متخصصې قوې ته شديده اړتيا ده. عمومي نظر دا دی: په لوړو مقاماتو کې تش ځايونه ډېر دي. د يوه اجرائيوي رئيس په وينا: زياتره خلک څه نا څه په شرايطو برابر دي، خو د برې لپاره يوازې د يوه لامل کمی دی او هغه لامل د کارونو مسئوليت اخيستل او سر ته رسول دي.
که سوداگري وي، که خرڅلاو وي، که علمي يا پوځي کار وي ... په ټولو لويو کارونو کې داسې خلکو ته اړتيا ده، چې د کار کولو فکر ورسره وي. مشران چې د کار لپاره خلک گوري، نو دا پوښتنې ورسره وي چې:

- کار به وکړی شي؟
- کار به تعقيب کړي؟
- خپله يې پيل کولای شي؟
- پايلې به ولري که هسې خبرې کوي؟

د دې ټولو پوښتنو موخه يوازې دا ده چې دا د کار او عمل سړی دی که نه.
يوازې ښې مفکورې لرل کفايت نه کوي. که فکر لږ ښه وي او کار پرې شوی وي، دا تر هغه ډېر ښه فکره ډېر ښه دی چې تعقيب شوی نه وي او له منځه تللی وي.
جان وانامیکر لوی سوداگر دی او په خپله يې هر څه گټلي، دی وايي: (په مسايلو يوازې فکر هيڅ گټه نه لري!)
تاسې ښه فکر وکړئ، موږ چې نن هر څه لرو، له سپوږمکيو نيولې بيا د ماشوم تر شيدو پورې ... دا هر څه يو وخت فکر و، خو کار پرې شوی دی.
عادي او بريالي خلک ټول په دوو ډلو وېشل کېږي:
يو هغه دي چې حرکت کوي او موږ يې فعال خلک بولو ... او بل هغه دي چې حرکت نه کوي، دا عادي او ناکام خلک دي او موږ يې (د اوږو بار) بولو.
د دې دواړو ډلو په ليدو د بري يو اصل ته رسېدای شو: بريالي خلک عمل کوي، اقدام کوي، کارونه سر ته رسوي، طرحې او نظريات تعقيب او عملي کوي. خو غيرفعال خلک بيا سم او پوره کار نه کوي، دوی دومره لټ لټ کېږي چې بلاخره خلک پوه شي چې دا کار نه شي کولای يا نور د کار وخت تېر شوی وي.
د فعالو او غيرفعالو خلکو توپير په ډېرو وړو مسايلو کې ښکاري.
فعال کس چکر ته ځي، سمدستي روانېږي او غير فعال کس هم چکر ته ځي، خو تر راتلونکي کاله يې ځنډوي.
فعال کس وايي لمونځ کوم، ښه په جمعه يې کوي، خو غيرفعال کس بيا وايي لمونځ ښه شی دی، خو ترې د تېښتېدو لارې چارې لټوي.
د فعال کس ملگرى بريالى شوی دی، دی وايي چې ليک ورته وليکم، سمدستي يې ورته ليکي. د غير فعال کس ملگرى بريالى شوی دی، وايي چې ليک ورته وليکم، خو د ليک نه ليکلو لپاره دلايل پيدا کوي او بلاخره ليک نه ليکي.
دا توپير په لويو مسائلو کې هم ښکاري.
فعال کس وايي: زه خپل ازاد کاروبار پيلوم او پيلوي يې. غير فعال کس هم وايي چې کار پيلوم، خو د دې د کار نه پيلولو لپاره ډېر دلايل پيدا کوي. فعال صيب ځلوېښت کلن دی، خو وايي چې کاروبار بدلوم او نوی فعاليت پيلوي. خو غيرفعال بيا ځان پر دې قانع کوي چې همدې حالت کې ښه يم. تېره هغه درنه وي چې په ځای پرته وي.
د فعال او غيرفعال انسان ترمنځ توپير د ژوند په ټولو اړخونو کې ښکاري. فعال کس چې کوم کار غواړي هغه کوي او له دې امله پر ځان باور، د ډاډ احساس، هوساينه او عايد هم پيدا کوي. غيرفعال کس چې کوم کارونه غواړي هغه نه پوره کوي، ځکه حرکت نه کوي. له دې سره يې پر ځان باور هم ختمېږي، پر ځان تکيه هم نه شي کولای او د ژوند شرايط هم نه شي ښه کولای.
فعال کس (اقدام کوي)، غير فعال کس (اقدام کوي، خو نه يې کوي.)
ټول خلک فعاليت غواړي، نو راځئ چې د فعالېدو لپاره عمل (اقدام) عادت کړو.
زياتره غيرفعال خلک چې اقدام کوي، لومړی دېته په تمه وي چې سل په سلو کې مساعد حالت رامنځته شي. د حالاتو ښه والی اړين دی، خو څه چې انسان جوړ کړي هغه هېڅکله بشپړ نه وي او نه کېدای شي. نو ايډيال حالت ته انتظار، قيامت ته انتظار دی.
لومړۍ قضيه: جين ولې واده و نه کړ؟
جين ځلوېښت کلنۍ ته نږدې دی، باسواده دی، حسابدارۍ کې کار کوي او په شيکاگو کې يوازې اوسېږي. اوس يې ارمان دا دی چې واده وکړي. دی مينه، گډ ژوند، کورنۍ او بچې غواړي. جين واده ته هم څو ځله نږدې شوی دی، يو ځل خو ورته يوه ورځ پاتې وه. دی به چې هر ځل واده ته نږدې شو، نو په مقابل لوري کې به يې يو منفي ټکی وليد. ده به ويل چې: (دا ښه شو چې په وخت پوه شوم او تېروتی نه يم.)
يوه کيسه يې دا ده: دوه کاله مخکې جين وويل چې مناسبه نجلۍ مې وموندله. ښايسته، خوږه او تکړه نجلۍ وه. خو جين ډاډه نه و چې واده گټي ورسره ښه دی. دوی دواړه چې د واده پر موضوع غږېدل، نو جين د نجلۍ ځينې خبرې اوربدلې وي او ورته اندېښمن شوی و. په دې خاطر جين د خپل ډاډ لپاره له واده وړاندې څلور مخه تړون جوړ کړ، خپل شرايط يې پکې وليکل، نجلۍ بايد دا شرايط منلي او لاسليک کړي وی. سند ډېر ښه ټايپ شوی و، د قانوني سند شکل يې درلود او جين پکې په خپلې خوښې ټول شرايط او موارد ياد کړي وو. يو ماده پکې ديني هم وه چې څه وخت به عبادت ته ځي، څه وخت به راځي، څومره خيرات به کوي ... يوه ماده يې د بچو په اړه وه چې څومره وخت کې به څومره بچي راوړي. **دوام لري...**

# اذربايجان

حشمت الله نوري



اذربايجان د اسيا په جنوب لوېديځ کې د جنوبي قفقاز په ختيځ او د کسپين سمندر په څنډه کې، د شمالي عرض‌البلدونو د ۳۹ او ۴۱ درجو او د ختيځ طول‌البلدونو د ۴۵ او ۵۰ درجو ترمنځ موقعيت لري، چې ټولټال يې پراخوالی ۳۳۴۰۰ ميل مربع ته رسېږي، چې په هر ميل مربع سيمه کې يې ۲۹۷ کسان ژوند کوي.
د دغه هېواد شمال ته د روسيې فدراتيف، جنوب ته يې ايران، ختيځ ته يې د کسپين سمندر او لوېديځ ته يې د ارمنستان جمهوريت پروت دی.
اذربايجان په ټوله شمالي خوا کې د قفقاز د غرونو د لړۍ د موقعيت له امله، لوند او باراني معتدل اقليم لري. د دغه هېواد پلازمېنه باکو ښار دی او نفوس يې څه کم لس ميليون کسانه اټکل شوی دی.
د دغه هېواد ٦٥ سلنه خلک په ښارونو او پاتې ۳۵ سلنه يې بيا په کليو او باندېو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې يوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.
اذربايجان د اداري وېش له مخې په ۵۹ ولايتونو، ۱۱ ښارونو او يو کورواکه جمهوريت وېشل شوی دی. علي بايراملي، بکي، گنسه، لن کران مينگاسور، سوسا او يفلاکس يې مهم ښارونه دي.
د اذربايجان نوی اساسي قانون د ۱۹۹۵ ز کال د نومبر په ۱۲مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر الهام عليوف او لومړی وزير يې نورور ممادوف دی. د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
په اذربايجان کې لومړی وزير او د هغه مرستيال او ټول وزيران د ولسمشر له خوا د ملي شورا له خوا ټاکل کېږي. د دغه هېواد ملي شورا ۱۲۵ څوکۍ لري، چې غړي يې د پنځو کلونو لپاره غوره کېږي. په دغه هېواد کې د رايې ورکولو سن ۱۸ کاله او رايه ورکول پکې عمومي دي.
د اذربايجان قضايي نظام په مدني قانون ولاړ او په سر کې يې ستره محکمه ځای لري. د دغه هېواد د اساسي قانون اتمې مادې ولسمشر ته دنده ورکړې، چې د هېواد د قضايه قوې خپلواکي تضمين کړي. دغه هېواد له سترې محکمې وروسته، اقتصادي ځانکړې او سيمه ييزې محکمې لري چې د قانون له مخې د خلکو او دولت په مسايلو کې پرېکړه کوي.
د نوي اذربايجان گوند، د اذربايجان د عوامو جبهه او د اذربايجان د ملي خپلواکۍ گوند يې مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي. دغه هېواد د ۱۹۹۱ ز کال د اگسټ په ۳۰مه له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکي واخيسته او هر کال د اگسټ ۲۸مه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.
اذربايجان د ښه جغرافيايي موقعيت او د طبيعي پرېمانه شتمنيو د درلودو له امله، د اقتصادي پرمختگ لپاره ښه امکانات لري. په دغه هېواد کې د شوروي اتحاد د واکمنۍ په لومړيو کلونو کې د اذربايجان اقتصاد، د شوروي اتحاد فابريکو ته اومه مواد توليدول.
تېل، ورېښم، پنبه او کبان د دغه هېواد د هغه وخت ستر توليدات وو. له دويمې نړيوالې جگړې وروسته، شوروي اتحاد د اذربايجان د صنايعو ودې ته پاملرنه وکړه. د تېلو د ايستلو، د خوراکي توکو د پروسس او د کوچنيو ماشينونو د جوړولو فابريکې يې په کې جوړې کړې.
د شلمې پېړۍ په اوايمو او اتيايمو لسيزو کې د پتروشمي محصولاتو او برېښنايي وسايلو فابريکو په کې پر فعاليت پيل وکړ. د فلزاتو د ويلې کولو پروژې جوړې شوې او د شوروي اتحاد په صنايعو کې د اذربايجان ونډه لس سلنې ته لوړه شوه.
د شوروي اتحاد تر ړنگېدو وروسته، د دغه هېواد اقتصاد له ډېرو ستونزو سره مخ شو. هغه فابريکې له کاره ولوېدې چې خپل توليدات يې د بشپړولو لپاره د شوروي اتحاد نورو جمهوريتونو ته لېږل.
اوس اوس د دغه هېواد ستر صادراتي قلم تېل دي، چې له خپلواکۍ وروسته يې ډېر ژر خپل هېواد پر پښو ودراوه. د هغو خبرو په نتيجه کې چې اذربايجاني چارواکو له ډېرو بهرنيو شرکتونو سره د دغه هېواد په نفتي حوزو کې د ۵۰ بليون ډالرو پانگې اچونې په اړه درلودې، د صنعتي پرمختگ لپاره د ضروري بودجې د پيدا کولو هڅې گړندۍ شوې. دغه هېواد ۲۵ کاله مخکې په خپل اقتصادي سيستم کې ريفورم پيل کړی او په خپل اقتصادي پرمختگ کې زاړه ميتودونه او زړې اړيکې پر نويو بدلوي.
برېښنا، د نفتو او گازو ايستل او چاڼ، د تېلو د ايستلو سامان الات، د اوسپنې ويلې کول، برېښنايي سامان، کيمياوي او پتروشيمي توليدات، بېلابېل ماشينونه، ټوکران، بوټونه، د ودانيو مواد، سيمنټ، لرگين شيان، غالۍ او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.
اذربايجان کرنيز هېواد دی، چې ۲۵ سلنه ځمکه يې د کرنې وړ ده. په دغه هېواد کې څرځايونو ۲۵ سلنه، ځنگلونو ۱۲ سلنه او غرونو، بيدياوو، سيندونو، ښارونو او د استوگنې کليوالو سيمو ۴۳ سلنه خاوره نيولې ده. د دغه هېواد ۴۰ سلنه خلک د کرنې او کبانو په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد شپږ سلنه ناخالص کورني توليدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.
لرگي، پنبه، تنباکو، وريجې، سويا، لمرگلي، کچالو چغندر، چای، ميوې، سابه، غوښه، لبنيات، هگۍ او وابښه د دغه هېواد مهم کرنيز محصولات دي.
نفت، گاز، اوسپنه، المونيم، سرپ، مس، سره زر، سپين زر، مرمر، د ډېرو سکاره او مالگه د اذربايجان مهم کانونه دي.
د دغه هېواد د صادراتو کچه ۳۰ بليون ډالره او د وارداتو کچه يې ۱۵ بليون ډالرو ته رسېږي.
روسيه، ترکيه، چين، انگلستان، اوکراين او جرمني د دغه هېواد لوی تجارتي شريکان دي. د ټيليفون کود يې ۰۰۹۹۴ او د انټرنټ کود يې بيا AZ دی، چې درې ميليون کسان يې ورته لاسرسی لري.
دغه هېواد يو دولتي، دوه عامه، شپږ سيمه ييز او شل ولايتي ټلوېزيونونه لري.
اذربايجان د اسيا د مخ پر ودې هېوادونو او د سړي سرکلنې عايد له پلوه، د اسيا په دويمه ډله پرمختللو هېوادونو کې شمېرل کېږي. د دغه هېواد له ۱۵ کلنو څخه پورته ټول خلک په ليک او لوست پوهېږي. زده کړې په کې له ٦-١٦ کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره جبري او دولتي زده کړې ټولو ته وړيا دي.
اذربايجانيان چې د لرغوني يونان مورخين يې کله نا کله البانيان هم بولي، د ختيځ قفقاز ډېر پخواني اوسېدونکي دي، چې له ميلاد څخه ۹۰۰ کاله پخوا يې د ماد د دولت په يوه ولايت کې ژوند کاوه. د هخامنشيانو په وخت کې د اذربايجان اوسنۍ خاوره د دوی د دولت يوه برخه وه، خو کله چې دا ستراواکي ونړېده، اذربايجان د مقدوني سکندر لاس ته ورغی. له سکندر او د هغه تر ځايناستو وروسته، اشکانيانو او ساسانيانو پر دغه سيمه واکمنې ټينگه کړه. د اوومې او لسمې پېړۍ ترمنځ، د ورېښمو تاريخي سوداگريزه لار چې اروپا يې له ختيځې اسيا سره تړله، د اوسني اذربايجان له خاورې تېرېدله او د دې سيمې له اقتصادي پرمختگ او شتمنۍ سره يې ډېره مرسته کوله. له يوولسمې تر څوارلسمې پېړۍ پورې، ترکي سلجوقيانو د اذربايجان او قفقاز ډېره سيمه ونيوله او دوی د ترکي ژبې او کلتورد خورولو لپاره ډېرې هڅې وکړې.
د ۱۵مې او ۱٦مې پېړۍ په منځ کې، لومړي شاه اسمعيل د صفوي دولت بنسټ کېښود. صفويان له اره اذره وو او په اذربايجان کې يې هم واک درلود. په اذربايجان کې د تېلو شته والي، د دغه هېواد ارزښت ډېر لوړ کړی دی. په ۱۹۹۱ ز کال کې د اذربايجان مساوات ټولنپال گوند جوړ شو، دغه گوند د ۱۹۱۸ ز کال په دوبي کې د خپل هېواد خپلواکي اعلان کړه. د اذربايجان له خپلواکۍ اخيستو دوه کاله نه وو تېر شوي، چې د شوروي اتحاد سرو پوځونو د اذربايجان ډېرې سيمې ونيولې او د اذربايجان شوروي سوسياليستي جمهوريت يې جوړ کړ. بالاخره اذربايجان د ۱۹۹۱ ز کال د ډسمبر په ۲۲مه د شوروي اتحاد د پخوانيو خپلواکه جمهوريتونو، د شورې او د ۱۹۹۲ ز کال د فبرورۍ په دويمه د ملگرو ملتونو په غړيتوب ومنل شو.
افغانستان او اذربايجان يو له بل سره نږدې اړيکې لري، په مسکو کې افغان سفارت په اذربايجان کې د افغانستان چارې په مخ بيايي.
په تېرو کلونو کې د اذربايجان الوتکې کابل ته راتلې او د اريانا افغان هوايي شرکت الوتکو د باکو پر لاره مسکو ته پروازونه کول.
له افغانستان څخه تر اذربايجان پورې د هوا له لارې فاصله ۱۹۱۴ کيلومترو ته رسېږي او همدا راز د کابل او باکو ښارونو تر منځ د وخت توپير ۳۰ دقيقې دی.

همیانی

# د نوي کاروبار د پرمختګ لپاره باید څه وکړو؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

معمولاً کار پنځوونکي د کار په پیل کې د زیاتې انرژۍ درلودونکي وي او غواړي هر څه ډېر په چټکۍ سره پرمخ بوځي. خو له یو څه وخت وروسته یې پام کېږي، ډېر کارونه شته چې لا یې نه دي تر سره کړي. ځکه یا یې وخت نه دی ورته پیداکړی او یا یې هم د تر سره کولو وړتیا نه لري. یا دا چې پانګه یې کمه ده او نه شي کولی د هرې برخې لپاره ځانګړی کس پر دنده وګوماري، هغه ده چې یو څه نا هیلی کېږي او ډېر کله یې د ماتې لامل هم کېږي.

دا هغه څه دي، چې د کوچني کارو بار لرونکي ارو مرو ور سره مخ کېږي او یوه طبعي پېښه ده. د دغو کارونو د تر سره کولو لپاره یوه ښه لار اړوند شرکتونو او متخصصو کسانو ته د کارونو سپارل دي. په دې لیکنه کې هغه ټکو ته اشاره شوې ده، چې باید د دې برخې اړوند شرکتونو او یا هم متخصصو کسانو ته وسپارل شي.

**۱- بازار موندنه**

که غواړی کاروبار مو پرمختګ وکړي، بازار موندنه یې باید یوه برخه وي. په کوچني کاروبار کې بازار موندنه هغه څه ده، چې باید ځانګړي کس، رسنۍ او یا هم اړوند یوه شرکت ته وسپارل شي، څو په ښه ډول یې تر سره کړي.

نن سبا چې د اړیکو او انټرنټ نړۍ ده، نو بازار موندنه یې هم د پخوا په پرتله اسانه کړې ده. که تاسو د خپلو محصولاتو ځینې نمونې هغو وېب سایټونو ته وسپارئ، چې د همدې برخې لپاره جوړ شوي دي، نو وبه ګورئ چې په پر له پسې توګه به درته خلک په انلاین ډول د توکو د پېرلو غوښتنې استوي. که مو کاروبار نوی پیل کړی وي، نو اړتیا نشته چې خپلې پیسې بې ځایه ولګوئ، څو پېرودونکي را جذب کړئ. هڅه وکړئ چې دغه کار د همدې برخې اړوند شرکت ته وسپارئ، ځکه ډېر کله ګټه په تاوان کېږي. د بازار موندنې تر ټولو ښه تعریف هم دا دی، چې بازار موندنه لګښت نه، بلکې پانګونه ده. که په سم ډول بازار موندنه وشي او په سر کې یې متخصص کسان شتون ولري، نو د داسې شیانو پېرلو ته خلک را جذبوي، چې هېڅ اړتیا ورته نه لري.

**۲- د وېب پاڼې جوړول**

لکه څه ډول مو چې مخکې وویل، نننۍ انلاین نړۍ ده. د یوې ښې او هر اړخیزې وېب پاڼې جوړول مو د کاروبار په پراختیا او پرمختګ کې مرسته کوي. د (ورډ پرس) طراح بیل اریکسون وایي، د یوې ښې وېب پاڼې جوړول لږ تر لږه ۱۴ اونیو وخت ته اړتیا لري. که د کارو بار څښتن خپل درې نیم میاشتنی وخت د یوې ښې وېب پاڼې پر جوړولو تېر کړي، نو نور اړین کارونه به یې څوک ورته کوي؟. نو ښه ده چې دغه کار له دفتره بېرون اړوند او متخصص کس ته وسپاري.

**۳- د عکسونو او وېډیو اخیستل**

عکسونه او وېډیو د عوایدو د زیاتوالي او کارو بار د پرمختګ لپاره نن سبا تر ټولو اړین دي. خو که دغه څه په غیر مسلکي توګه تر سره شي، د عکس او وېډیو کیفیت خرابوي، نه یوازې دا چې کاروبار به مو پرمختګ ونه کړي، بلکې منفي اغېز پرې کوي. د عکسونو او وېډیو ګانو لپاره باید پرمختللې کمرې ولرئ، چې ډېرې ګرانې دي. دغه راز د عکسونو او وېډیوګانو د اېډېټ او ډیزان لپاره ځانګړي کمپیوټر او یوه متخصص کس ته هم اړتیا ده. دا چې ستاسو کاروبار کوچنی دی، د دې برخې لپاره د متخصص کس نیول، ځانګړي کمپیوټر او لوړ قېمت کمرو اخیستل څه اسانه کار نه دی، نو ښه ده چې دغه کار هغه شرکت ته وسپارئ، چې په همدې برخه کې اړین توکي او ځانګړي کسان لري. کېدای شي د یوې قېمتي کامرې پر بیې تاسو خپل د څو میاشتو کارونه پر دغه شرکت تر سره کړئ.

**۴- د ټولنیزو شبکو مدیریت کول**

ټولنیزې شبکې نن سبا د کاروبار په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. خو په دغو شبکو کې ستاسو د کاروبار اړوند معلوماتو خپرول، کومنټ او پیغام ته ځواب ورکول کېدای شي ستاسو ډېر قېمتي وخت ونیسي. ځکه تاسو ډېر نور کارونه هم لرئ، چې باید تر سره یې کړئ. شته داسې کسان او شرکتونه چې کولی شي د ورځې په اوږدو کې په دوامداره توګه ستاسو ټولنیزې شبکې فعالې وساتي او د عوایدو لپاره درته یوه ښه سرچینه وي.

خو کله مو چې کاروبار پرمختګ کوي او لویېږي، بیا ښه ده چې د هرې برخې لپاره ځانګړي کسان په پام کې ونیسئ، څو هر څه مو تر سترګو لاندې وي او کارونه مو له خوښې سره سم پر مخ ولاړ شي.

## د ملکیانو د خوندیتوب ډله: طالبان دې د سولې خبرو د بریا لپاره خپل بریدونه ودروي

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ډلې له وسلهوالو طالبانو غوښتي، چې د سولې د مذاکرو د بریا لپاره دې جګړه ودروي.

د دې ډلې مشر عزیز احمد تسل له ازادي راډیو سره په خبرو کې اندېښنه ښودلې، چې د سولې د مذاکرو له جدي کېدو سره په هېواد کې جګړې هم شدیدې شوې دي.

نوموړي ویلي: «د جګړې نړیوال اصول دا دي، کله چې د سولې مذاکرې پیلېږي، لومړی بحث دا وي چې اوربند ته لار هواره شي. وروسته د سولې پر مذاکرو بحث کېږي، له هغو اړخونو چې په جګړه کې ښکېل دي. له بده مرغه په افغانستان کې د سولې د جدي خبرو تر څنګ په هېواد کې جګړې زور اخیستی. وسلهوالو طالبانو خپلو جنګیالیو ته ویلي چې تاسې جګړه وکړئ، په دې کې ثواب دی. په داسې حال کې چې د دوی په جګړه کې ملکیان وژل کېږي. حکومت هم خپلو عملیاتو ته شدت ورکړی چې په دغو عملیاتو کې هم ملکي خلک وژل کېږي».

د ملکیانو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ډلې تر څنګ، افغانانو هم په وار وار هم له افغان حکومت او هم د دولت له وسله والو طالبانو غوښتنه کړې، چې د روژې په احترام دې سوله وکړي، یا دې هم د سولې د خبرو پر مهال جګړه ودروي.

دا په داسې حال کې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ د خبرو شپږم پړاو تېره پنجشنبه پای ته ورسېد.

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تر دغه پړاو خبرو وروسته په خپله ټویټرپاڼه ولیکل، چې په دغو مذاکرو کې ورو پرمختګ شوی دی.

خو د سولې د مذاکرو تر څنګ، وسله والو طالبانو خپلو بریدونو او جګړو ته دوام ورکړی دی.

طالبانو چې له افغان حکومت سره یې د سولې له مستقیمو خبرو ډډه کړې، ویلي چې په روژه کې به خپل بریدونه لا زیات کړي. دوی د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې پر امنیتي ځواکونو لسګونه بریدونه کړي، چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

## د متشبثینو بورډ: افغان سوداګر د لاجوردو پر لار د پرتو هېوادونو د ویزو په ترلاسه کولو کې له ستونزو سره مخ دي

د افغانستان د متشبثینو د بورډ مشر ویلي چې افغان حکومت باید د لاجوردو پر لار د افغان سوداګرو او بار وړونکو موټر چلوونکو د ستونزو هواري ته پام وکړي.



د دغه بورډ مشر رحم‌الدین حاجي‌اغا ازادي راډیو ته ویلي، چې افغان سوداګر په دغه لار د ویزې په ګډون، له ځینو ستونزو سره مخ دي.

هغه ویلي: «سوداګر او موټر چلوونکي د لاجوردو په لار د پرتو هېوادونو ویزې او روډ پاسونه په ډېرو ستونزو ترلاسه کوي، اوس هم په سوداګریزو مالونو ولاړ ځینې موټر تګ ته چمتو دي، که دغه ستونزه حل شي، دوی حرکت کوي».

دا په داسې حال کې ده چې د دې لارې د پرانیستې په لومړۍ ورځ، نهه موټره افغاني محصولات او تولیدات، چین او ترکیې ته روان شول.

د لاجوردو لار چې په تېر کې د ورېښمو لار بلل کېده، د افغانستان له هراته د ترکمنستان ترکمن باشي بندر ته، چې له کسپین بحیرې سره پروت دی، رسېږي. له کسپینه بیا اذربایجان او جورجیا هېوادونو ته او له دې ځایه بیا د ترکیې له لارې له ازادو اوبو سره نښلي.

افغان سوداګر وایي چې له دې لارې وچه او تازه مېوه، طبي بوټي او بېلابېل نور افغاني تولیدات اروپایي هېوادونو او نړیوالو بازارونو ته صادروي.

بلخوا سوداګرۍ وزارت هم په یاده برخه کې ځینې ستونزې مني، خو په خبره یې دغه لاره نوې ده او افغان سوداګر او موټر چلوونکي نوې سوداګري او لاره تجربه کوي.

د دغه وزارت ویاند سیمر رسا ویلي، د افغان سوداګرو د ویزې ستونزه حل شوې او د نوموړي په خبره پرله پسې هڅې کېږي، چې د افغان حکومت اړوند بنسټونه چې په یو مشترک بورډ کې سره کار او د افغانستان بهرنیو چارو وزارت یې هم غړیتوب لري، پاتې ستونزې هم حل کړي.

هغه ویلي: «نوې لار او لومړۍ تجربه وه، ستونزې مشخصې شوې، رښتیا هم د ویزې ستونزه وه چې د بهرنیو چارو وزارت له ګډ ټیم سره مو دغه ستونزه حل کړې ده. په ګرجستان کې موږ سفارت نه درلود، سوداګر کولای شي چې د هغه هېواد ویزه په ازبکستان کې واخلي، تمه لرو چې په درېیم او څلورم پړاو موټریز کاروان کې دغه ستونزې په بشپړ ډول حل شي».

په ورته وخت کې د سوداګرۍ او صنایعو خونه وایي، که حکومت د افغان سوداګرو ستونزې حل نه کړي، دغه لاره چې افغان سوداګریز توکي تر نړیوالو بازارونو رسوي، له سقوط سره به مخ شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۷,۸۰ |
| Rp. | ۵۴۱ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د مي ۱۳مه | دربیم کال | ۳۷۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳۱ | ۳۶ | ۳۵ | ۳۶ | ۳۰ |
| ۱۳ | ۱۸ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۱ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۵ | لمر ختل ۰٤:۵۳ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیګر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:۵۰ | ماخوستن ۰۸:۲٤

دوشنبه ۱۳۹۸/۲/۲۳
د سهار اذان ۰۳:۱۵ د ماښام اذان ۰٦:۵۰



## پارچایا: اندونیزیا آماده است که از گفت‌وگوهای صلح افغانستان میزبانی کند



معاون وزیر خارجه اندونیزیا، آمادگی کشورش را برای میزبانی گفت‌وگوهای صلح افغانستان ابراز کرده است.

در خبرنامه وزارت خارجه افغانستان آمده است که این مقام بلند پایه اندونیزیا آمادگی کشورش را در این مورد، در دیدار با صلاح‌الدین ربانی سرپرست وزارت امور خارجه افغانستان ابراز کرده است .

خبرنامه می افزاید که دوکتور دیسرا پارچایا معاون وزیر خارجه اندونیزیا در امور افریقا، آسیا و اقیانوسیه، با تقدیم نامه وزیر خارجه کشورش به صلاح‌الدین ربانی، تلاش‌های جمهوری اندونیزیا برای صلح در افغانستان را تشریح نمود.

ربانی طی صحبتی اندونیزیا را دوست افغانستان خواند و با تقدیر از پشتیبانی جمهوری اندونیزیا از رهبری و مالکیت مردم و دولت جمهوری اسلامی افغانستان بر روند صلح، تلاش‌های اندونیزیا برای زمینه سازی گفت‌وگوهای رو در رو را ستوده است.

ربانی همچنان بر عملی شدن توافقنامه های که اخیراً میان دو کشور به امضاء رسیده، تأکید کرده است.

دوکتور پارچایا تعهد کشورش برای آموزش و بلند بردن ظرفیت کارکنان بخش معادن افغانستان را نیز ابراز داشت. قابل ذکر است که حدود دو هفته قبل (۱۰ ثور) رنتنو لیستاری وزیر امور خارجۀ اندونیزیا با ملا برادر رئیس دفتر طالبان در قطر، در مورد پروسۀ صلح افغانستان گفت‌وگو نموده است.

در این دیدار که در دوحه پایتخت قطر صورت گرفته بود، هر دو طرف برای حل مسئله افغانستان بر ارتباط بین هم تأکید ورزیدند؛ در مقابل وزیر امور خارجه اندونیزیا از کمک در هنگام ضرورت برای حل مسئله افغانستان و نقش مثبت کشورش اطمینان داد.

او ابراز امیدواری کرده بود که هرچه زودتر برای مسئله افغانستان، یک راه حل معقول پیدا شود.


# نړۍ



## روحاني: پر ایران نړیوال فشارونه په اسلامي انقلاب کې بې ساري دي

۳

## د سعودي امنيتي ځواکونو په قتيف ښار کې اته وسله وال وژلي دي



د سعودي عربستان د کورنيو چارو وزارت ويلي، د دغه هېواد په ختيځ کې د قتيف په شيعه مېشتي سيمې کې د ترهګرو پر يوه پټنځای په عملياتو کې اته تنه وژلي دي.

د دغه وزارت په اعلاميه کې راغلي چې د مشکوکو ترهګرو دغه پټنځای د تاروت په سيمه کې و، چې د چارواکو په خبره دا سيمه د فارس خليج په نارامه سيمه کې موقعيت لري او د سعودي عربستان د تېلو ډېرې زېرمې هم همدلته دي.

په اعلاميه کې وړاندې راغلي چې وژل شوي کسان د ترهګرو يوه شبکه وه، چې پر امنيتي ځواکونو او نورو مهمو تاسيساتو يې د بريدونو پلانونه لرل.

بلخوا د سعودي د کورنيو چارو وزارت ويلي چې امنيتي ځواکونو وروسته له هغې دغه کسان له منځه يوړل، کله چې مشکوکو ترهګرو پرې بريد وکړ.


وزارت د دغې ډلې په اړه نور معلومات نه دي خپاره کړي، خو ويلي يې دي چې په دې اړه پلټنې روانې دي.

د سيمې خلکو په ټولنيزو رسنيو کې د دغې پېښې اړوندې ځينې ويډيوګانې خپرې کړې دي، چې له سيمې څخه فضا ته لوګي پکې پورته کېږي.

د يادونې ده چې د سعودي عربستان ځواکونه وخت ناوخت په قتيف کې له شيعه وسله والو سره نښتې کوي. د دې سيمې اوسېدونکو په ۲۰۱۱ ز کال کې لويې مظاهرې وکړې. دوی د سعودي له حکومته وغوښتل چې بايد برابر حقونه ورکړل شي.

له دغو مظاهرو وروسته د سعودي حکومت د شيعه ګانو ځينې مشران ونيول او ځينې يې بنديان کړل. همدغه راز د شيعه ګانو يو مشهور عالم شيخ نمرالنمر يې هم د هېواد ملي امنيت ته د ګواښ په تور اعدام کړ.

## د بلوچستان د ګوادر پر هوټل بريد کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې




د پاکستان د بلوچستان ايالت په ګوادر کې پر پنځه ستوريز هوټل «پېرل کانټينېنټل» باندې د وسله والو په بريد کې پنځه تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپيان دي.

د ګوادر د پوليسو مشر منير احمد ضيا ويلي، په بريد کې پنځه ملکي وګړي او څلور ترهګر وژل شوي او لسګونه نور ټپيان شوي دي.

په ورته وخت کې د پاکستان لومړي وزير عمران خان د يوې اعلاميې په خپرولو سره دغه ترهګريز بريد بللی دی.


بلخوا د بلوڅ بېلتون غوښتونکو يوې ډلې چې د بلوڅانو د آزادۍ پوځ نومېږي، د دغه بريد پړه پر غاړه اخيستې ده. دې ډلې په يوه اعلاميه کې ويلي، چې پر دغه هوټل يې ځکه بريد کړی، چې د چين او بهرنيو هېوادونو پانګوال پکې مېشت وو.

له بريد وروسته د دغه ايالت امنيتي چارواکو ويلي، چې په دغه هوټل کې اکثريت مېلمانه د بريد له ځايه ژغورل شوي دي. د دغه هېواد يوه پوځي چارواکي د نوم نه ښودلو په شرط ويلي، چې وسله وال د هوټل اول منزل ته ننوتي وو.

د يادونې ده چې د ګوادر ښار بندر د چين په مرسته په عصري توګه رغول کېږي، څو سترې تجارتي بېړۍ وکړای شي په دغه بندر کې خپل بارونه ښکته کړي.


# ژوند

## بريا دا نه ده چې...



بريا؛ دې ته نه ويل کېږي چې تر اړتيا ډېر عوايد ولرې او د لګښت لاره يې درنه ورکه وي، چې پر څه يې مصرف کړې، بلکې دومره وړتيا ولرې چې د لګښت سالمې لارې چارې ورته پيدا کړې، څو مو خوارې پر اوبو لاهو شوې نه وي. بريا؛ دې ته نه ويل کېږي چې له اندازې ډېر کار وکړې او له خپل ژوند خوند وا نه شې خيستلی. پيسې ګټل مو بايد هدف نه وي، بلکې د وسيلې په توګه يې وکاروی، پيسې ګټل مو بايد د ورځني ژوند د ښه تېرېدو لامل وګرځي. بريا؛ دې ته نه ويل کېږي چې ټل مو انرژي په دې مصرف کړې او د خپلو وروستيو پروژو، پلانونو او... په اړه فکر وکړې، بلکې ژوند مو داسې تنظيم کړې چې د هر څه لپاره منظم پلان ولرې او په ډاډه زړه خپل کارونه ترسره کړې. بريا؛ دې ته نه ويل کېږي چې له اوږده کاره ستړي کور ته ولاړ شې او ټلويزيون ته پرېوځې او له ځان سره ووایاست چې اوس نو نوبت زما دی او په دې فکر کې شې چې څومره دې ګټلې، ويې څټې.

## روژه او د بادرنګ ګټې



بادرنګ د هغو سبزيو او مېوو په سر کې راځي، چې له تندې سره مبارزه کوي. له رومي، کاهو او هندوانې هم مخکې دی چې ۹۲ سلنه اوبه لري، نو په روژه کې يې خوړل ګټور دي. بادرنګ د کاهو او رومي په پرتله ډېره لږه کالري لري؛ ځکه خو په ډنګرېدو کې پوره پوره مرسته کوي. د خوړو کارپوهان يې تل هغو کسانو ته سپارښتنه کوي، چې ډېر وزن لري. پر دې سربېره بادرنګ بوره نه لري چې د وزن د ډېرښت لامل وګرځي، ځينو علمي څېړنو دا ښودلې ده چې بادرنګ دا وړتيا لري، چې د سړيو د جنسي ځواک فعاليت لا پسې ډېر کړي. په ځانګړې توګه د هغو چې د کوروالۍ پر مهال له ځانګړو ستونزو ځورېږي. دا هم د يادونې ده چې بادرنګ د خولې بد بوی له منځه وړي، د بادرنګ ځينې ګټې په دې ډول رالنډېولای شو:

بادرنګ په هضم کې مرسته کوي، له بدن څخه د زهري موادو په ايستلو کې مرستندويه ثابتېږي او پر جنسي روغتيا يې اغېز مثبت دی، سرطان ناروغۍ ته هم ګټور دی او هغه وګړي چې د بدن پوستت يې وچ وي، د بادرنګ کارول ورته ګټه لري.